
د ښځو د سولې لنډیز – ۲۰۲۱کال د جنوري میاشت

د بین الافغاني خبرو اترو د لارښود اصولو پرسرد کړکیچ په اړه د افغان ښځو نظرونه

لنډیز:

- **د هرات، تخار، بلخ، ننګرهار، بامیان، کندهار او هلمند په ولایتونو کې ۲۱۰۱ تنه ښځو چې عمریې له ۱۸ څخه تر ۳۵ کلونو پورې وو، د بین الافغاني خبرو اترو د لارښود اصولو په هکله د ۲۰۲۱ کال د جنوري میاشتې د ښځو د سولې لنډیز په یوه نظر اخیستنه کې ګډون وکړ.**
- **٪۶۳،۲۵ ځواب ویونکې د طالبانو له دې غوښتنې په هکله پوهیدې چې د ۲۰۲۱ کال د فبروري په میاشت کې د طالبانو او امریکا تر منځ هوکړه لیک دې د نومورو خبرو اترو اصلي تکلاره یا چوکاټ وي او دا چې دغه مسئله د سولې د خبرو اترو د چټکتیا پرور اندې د مهمو خنډونو له جملې څخه وه.**
- **٪۴۸،۱ ځواب ویونکې پوهیدې چې د سولې د خبرو اترو ډلو د ۲۰۲۱ کال د ډسمبر میاشتې په ۲ مه نیټه په څلورو اصولو باندې هوکړه وکړه چې یو اصل یې د طالبانو او امریکا تر منځ هوکړه لیک ؤ.**
- **٪۶۹،۹ ځواب ویونکې اندښمنې وې چې د طالبانو او امریکا تر منځ هوکړه، د یوه لارښود سند په توګه منل به د افغان ښځو د وه لسیزو لاسته راوړنې په خطر کې واچوي.**
- **٪۴۸،۷۳ ځواب ویونکو وویل چې پاتې درې اصول (د تلپاتې سولې لپاره د افغانانو غوښتنې، تلپاتې سولې ته د خبرو اترو د لوریو ژمنتیا، او له با ثباتې سولې څخه د ډډ ترلاسه کولو لپاره د ملګرو ملتونو غوښتنې) د ښځو د حقونو د خوندې کولو لپاره بسنه نه وې. ۲۰،۳۲٪ دا وویل چې دا اصول بسنه کوي، او ۹،۴٪ په دې نظر وې چې تر یوحده بسنه کوي.**

شالید او د سروې پوښتنې: د خبرو اترو اصول، په لومړي پړاو کې د بین الافغاني خبرو د ورو کېدو له بنسټیزو مسائلو څخه وو. د طالبانو دلې غوښتل چې د ۲۰۲۰ کال په فبروري میاشت کې د طالبانو او امریکا تر منځ لاسلیک شوی هوکړه لیک دې د خبرو اترو د یو بنسټیز سند په توګه ومنل شي، خو د جمهوریت خبرواترو دلې د څلورو نورو اصولو سپارښتنه وکړه: (۱) که چېرې د طالبانو او امریکا حکومت تر منځ هوکړه لیک د یوه اصل په توګه منل کېږي نو د افغانستان اسلامي جمهوري، امریکې، او ناټو تر منځ درې اړخیزه اعلامیه هم باید د یوه اصل په توګه ومنل شي، (۲) نه د امریکې او طالبانو تر منځ هوکړه لیک او نه هم یاده شوې درې اړخیزه اعلامیه دې د خبرواترو بنسټ وټاکل شي، بلکې دغه خبرې اترې باید د لوېي جرګې پر بنسټ مخ ته یووړل شي، (۳) د افغانستان ملي ګټې دې د خبرواترو د بنسټ په توګه ومنل شي، او (۴) د خبرواترو په ترڅ کې رامنځته کېدونکو اختلافونو د هوارولو لپاره دې قرآن او حدیث ته رجوع وشي. د ۲۰۲۰ کال د ډسمبر په ۲ مه د نومورو خبرو اترو لپاره پر څلورو اصولو هوکړه وشوه: (۱) د طالبانو او امریکې تر منځ هوکړه لیک چې د ۲۰۲۰ کال د فبروري په ۲۹ مه نیټه لاسلیک شوی ؤ؛ (۲) د تلپاتې سولې لپاره د افغان ولس غوښتنې؛ (۳) تلپاتې سولې ته د خبرو اترو د لوریو ژمنتیا؛ (۴) په افغانستان کې د با ثباتې سولې لپاره د ملګرو ملتونو غوښتنې.



له ولایتونو څخه را ټول شوي نظریات: ۶ ښځو له ۷ هغو ولایتونو څخه چې نظر اخیستنه پکې وشوه، د خبرو اترو او د هغو د اصولو په اړه خپل نظرونه شریک کړل

پلوشه، ۲۷ کلنه، له بلخ ولایت څخه: "طالبان وایي چې "مورږ د اسلام په چوکاټ کې د ښځو حقونو ته درناوی کوو،" خو زه وایم چې دا همدا اوس هم شتون لري. طالبانو د اسلام چوکاټ د وېرې چوکاټ ته بدل کړی دی، افغانې ښځې دا نه مني. ښځې غواړي چې هغه لاسته راوړنې چې په ټېرو ۲۰ کلونو کې یې لاس ته راوړې دي، خوندي کړي. له دغو لاسته راوړنو څخه یو اساسي قانون دی، په ځانګړې توګه دوهم فصل یې چې د ښځو حقونه پکې شامل دي. د طالبانو او امریکې تر منځ هوکړه لیک اساسي قانون په پام کې نه نیسي او په دې هوکړه لیک کې د ښځو د حقونو خوندیتوب لپاره کوم تضمین نشته. تر څو چې نړیواله ټولنه د سولې په بېر کې د ښځو حقونه تضمین نه کړي، د امریکې او طالبانو تر منځ هوکړه لیک کولای شي د ښځو حقونو ته زیان ورسوي."

ملالی، ۳۰ کلنه، له هرات ولایت څخه: "له کومه ځایه چې د امریکې او طالبانو تر منځ هوکړه لیک د دغو دوه لوریو د ګټو پر بنسټ جوړ شوی، د بین الافغاني خبرو اترو لپاره مناسب ندی. د بین الافغاني خبرواترو لپاره هغه هوکړه لیک د منلو وړ دی چې ملي ګټې او ځینې نور ارزښتونه، لکه ځمکنۍ بشپړتیا، د بیان آزادي، د مطبوعاتو آزادي، او د ښځو د ټبرو دوو لسیزو لاسته راوړنې خوندي کړي. که چېرې د طالبانو او امریکې تر منځ هوکړه لیک د بین الافغاني خبرو اترو د بنسټ په توګه ومنل شي، کولای شي چې پر ښځو باندې منفي اغېزه وکړي. له کومه ځایه چې په دې هوکړه لیک کې د ښځو د حقونو کوم تضمین شتون نلري، نو کولای شي د ښځو د حقونو او په ټولنه کې د هغوی حضور په بشپړه توګه له منځه یوسي. له دې امله، دا مهمه ده چې ملکري ملتونه او نور مرستندویان د خبرواترو لوري د ښځو د حقونو او آزادیو ساتلو ته وهڅوي."

البینا، ۱۹ کلنه، له هلمند ولایت څخه: "طالبان ښځو ته کوم پیغام نلري، ځکه چې په افغانستان کې د هغوی د حکومت پر مهال، هغوی پر ښځو باندې ظلم کاوه. که چېرې طالبان بېرته راشي، ښځې به بیا په کورونو کې بندي شي او د ښوونځي او زده کړو کوم فرصت به ورته مساعد نه

وي. د طالبانو په حکومت کې ډېرو خلکو افغانستان خوښ کړ. طالبانو له شیعه خلکو سره ډېر ضد درلود او د دې خلکو جوماتونه یې وترل. اوس راغلي د سولې خبره کوي، خو دا رښتیا نده، هغوی یوازې واک غواړي."

صالحه، ۴۶ کلنه، له تخار ولایت څخه: "زه فکر کوم چې د طالبانو او امریکې تر منځ هوکړه لیک نه یوازې د ښځو لپاره، بلکې د ټول افغانستان لپاره بد دی. د افغانستان ښځو ډېر خطرونه پر ځان اخیستې تر څو وکولای شي یو څه حقونه ترلاسه کړي، خو دغو خبرواترو او د طالبانو او امریکې ترمنځ هوکړه لیک، دوی ډېرې اندېښمنې کړې دي او دا کولای شي د دوی پرمختک ودروي."

وحیده، ۵۰ کلنه، له ننګرهار ولایت څخه: "دا په دې پورې اړه لري چې طالبان له ښځو سره څرنګه چلند کوي. سلګونه زرو ځوانانو او ښځو خپل ژوندونه له لاسه ورکړي او حتی ماشومان د خپلې مور په ګېډه کې وژل شوي دي. دا هغه څه دي چې طالبان یې کوي. زما په اند که چېرې طالبان بیا د ښځو په لاسته راوړنو سترګې پټې کړي، هغو ته سپکاوی وکړي، له کار څخه یې بې برخې کړي، د بیان آزادي ترې واخلي، دفترونو ته له تلو څخه یې منع کړي، او په سیاست کې له ګډون څخه یې منع کړي، زه ډاډمنه یم چې خلک او ښځې به هغوی ونه مني. حتی که حکومت له هغوی سره هوکړه وکړي، ښځې به هغوی ونه مني. ښځو ډېر درد او رنځ او کړاو لیدلی او نه غواړي چې بیا همداسې وشي. که تاسو د کورونو په کچه یوه سروې وکړئ او که حتی د کورونو نارینه دغه اوسنی هوکړه لیک او د طالبانو راتلونکی هوکړه لیک ومني، د همغو کورونو ښځې به یې د خپلو دردوونکو تجربو له امله ونه مني. په تېرو ۴۰ کلونو کې، په ښځو باندې د وسله والو لخوا په مستقیمه توګه برید ندی شوی، خو اوس وینو چې ښځینه سیاستوالې، خبریالانې، یا د دولت لوړ پوړې کارکوونکې د برید لاندې واقع کېږي او وژل کېږي. دا د دې لپاره ده چې طالبان ښځو او د هغوی لاسته راوړنو ته درناوی نلري."

ذاکره، ۴۰ کلنه، له بامیان ولایت څخه: "د طالبانو او امریکې د هوکړې ستونزه دلته ده چې پکې د ښځو او د هغوی د حقونو کومه یادونه نده شوې. دا د افغان ښځو لپاره ډېره د اندېښنې ور ده. طالبانو د خپل حکومت پر مهال د ښځو په حقونو باور نه درلود او حتی اوس یې هم نه لري (ځکه چې د طالبانو او امریکې په هوکړه لیک کې د ښځو د حقونو کومه یادونه نده شوې). دا کېدای شي چې د افغانستان د ښځو او همدارنګه د ټول ولس په زیان تمام شي."

میتودولوژي: د "واوره" د سروې پوښتنې هغو بحثونو ته په کتو سره جوړېږي چې د خبرو اترو پر مهز ترسره کېږي. څېړونکي هره میاشت، د Likert میتودولوژیکي تکلارې په کارولو سره څلور ټرلې پوښتنې (Close-ended) او یوه خلاصه پوښتنه (Open-ended) چې سروې کوونکي یې (د ګډونوالو د موافقې له ترلاسه کولو وروسته) په خپلو ټلیفوني سروې ګانو کې کاروي او د سولې تسهیلوونکي یې په ولایتونو کې د مخامخ سروې ګانو لپاره کاروي. وروسته له هغې، د ټلفوني سروې ګانو او مخامخ سروې ګانو موندنې راغونډېږي او کلیدي موندنې رپې راټولېږي تر څو په متمرکزو ډله ییزو بحثونو کې، چې تر دې وروسته د ټولنې له ښځینه مشرانو (د "واوره" ، د ښځو د سولې د کړیو غړو) سره ترسره کېږي، په پام کې ونیول شي. "واوره" ، د راټولو شوو غږونو د مثلث له لارې ډاډ ترلاسه کوي چې خپلې موندنې د بیلابیلو میتودولوژیکي تکلارو په آزمایلو سره چک کړي تر څو ډاډ ترلاسه کړي چې دغه موندنې شته حقایق منعکس کړي. وروسته له دې دغه موندنې د ښځو د سولې په یو لنډیز کې راغونډېږي چې "واوره" یې نه یوازې د خبرواترو لوړیو او د سولې په بهیر کې ښکېلو مرستندویانو ته، بلکې بېرته یې (د تاییدِ د کړۍ له لارې – feedback loop) سروې شوو ځواب ویونکو ته هم لېږي تر څو هغوی د هېواد په کچه کې د ښځو له نظرونو څخه خبر شي.

د "واوره" په اړه: "واوره" یو نوښت دی چې د افغاني ټولنې له بیلابیلو برخو څخه د سولې روانو خبرواترو پورې اړوندو مسائلو په اړه د ښځو نظرونه راټولوي او دغه نظرونه د خبرواترو له مهز، د سولې په بهیر کې له ښکېلو مرستندویانو، د مدني ټولنې بنسټونو او عامو خلکو سره شریکوي. پر دې سربېره، "واوره" په لومړۍ ردې - Track I کې له شته ښځو سره د خپلو موندنو په شریکولو سره هغه ته دا ورتیا ورکوي چې د ولس په منځ کې د ښځو اوچت شوي غږونه خبرو اترو ډلو ته ورسوي. د بدیل په توګه، د "واوره" یو مهم فعالیت دا دی چې د خپلې سروې موندنې د پیغامونو د ټکنالوژۍ – SMS له لارې بېرته له هغو کسانو سره شریکې کړي چې سروې یې شوې ده، او پدې توګه په دې بهیر کې له هغوی سره د ذینفعانو /شریکانو په شان چلند کوي.